# بېشکه الله - جل جلاله - ظالم ته مهلت ورکوي، تر دې چې کله يې راونيسي بيا يې نه پريږدي

له ابو موسى - رضي الله عنه - څخه روايت دى وايې چې : رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «بېشکه الله - جل جلاله - ظالم ته مهلت ورکوي، تر دې چې کله يې راونيسي بيا يې نه پريږدي» بيا يې (دا آيت) ولوست: {وَكَذَلِكَ أَخْذُ رَبِّكَ إِذَا أَخَذَ الْقُرَى وَهِيَ ظَالِمَةٌ إِنَّ أَخْذَهُ أَلِيمٌ شَدِيدٌ} [هود: 102]» «او په شان د دغو (نيولو) نيول د رب ستا دي کله چې هغه کلي نيسي، په داسې حال کې چې هغه (کلي) ظالم وي، بېشکه د هغه (الله) نيول ډېر دردوونکي، ډېر سخت دي».

[صحيح دى] [متفق عليه دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم په ګناه، شرک او د خلکو سره د هغوى په حقونو کې په دوامداره توګه له ظلم کولو څخه خبردارى ورکوي، چې يقينا الله جل جلاله ظالم ته مهلت ورکوي، ځنډوي يې، عمر يې اوږدوي او مال يې زياتوي، نو په سزا ورکولو کې يې بېړه نه کوي، که چېرته يې توبه ونه کړه بيا يې رانيسي او نه يې خوشي کوي او د هغه د ډېر ظلم له ملـه يې نه پريږدي. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم دا آيت ولوست: {وكذلك أخذ ربك إذا أخذ القرى وهي ظالمة إن أخذه أليم شديد} [هود: 102]، «او په شان د دغو (نيولو) نيول د رب ستا دي کله چې هغه کلي نيسي، په داسې حال کې چې هغه (کلي) ظالم وي، بېشکه د هغه (الله) نيول ډېر دردوونکي، ډېر سخت دي».

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5811